https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864


خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها
ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS

## دکورني امنیت وزارت (Department of Homeland Security -DHS) پر شرایطو برابر نوي راغلو افغانانو ته د بیا پرول خبر ورکوي

**څه:** دکورني امنیت وزارت (DHS) د هغو پرول وضعیت لرونکو غیر تبعه افغانانو غوښتنلیکونه مني چې متحده ایالاتو ته د دننه کېدو نوعیت یې او ای ار (OAR) یا پي اې ار (PAR) وي.

**څوک:** د هغو نوي راغلو افغانانو لپاره چې د ۲۰۲۱م کال جولای د میاشتې ۳۱ مې نیټې او د ۲۰۲۲م سپټمبر د میاشتې ۳۰ مې نیټې په ترځ کې پرول شوي وي او یا هغه اشخاص چې په متحده ایالاتو کې د ۲۰۲۲م کال سپټمبر د ۳۰ مې نیټې څخه وروسته د دوی د ننوتو اړوند سوابقو کې پي اې ار (PAR) یا او اې ار(OAR) لیکل شوي وي.

تاسې کولای شې چې د خپل د ننوتلو سوابق د I-94 فورمه کې ومومئ. لاندې بیلګه وګورئ.




که چیرې ستاسې د ننوتلو سوابقو کې پي اې ار (PAR) یا او اې ار (OAR) نه وي ذکر شوي، کولای شئ OAWI94Adjustments@cbp.dhs.gov ته بریښنالیک ولیږئ تر څو ستاسو د ننوتلو سوابق تازه شي. تاسې کولای شئ چې خپل د I-94 تر تولو وروستي فورمې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) څخه تر لاسه کړئ.( دری) (پشتو)

**کله:** هغه افغان اتباع چې د کډوالۍ حالت یې نه وي تائید شوی او یا په جریان کې وي مخکې له دې چې د پرول اعتبار نیټه یې پای ته ورسیږي باید د بیاپرول پروسې ته نوملیکنه وکړي.

**چیرې:** د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) په ویب سایټ کې https://my.uscis.gov/ د myUSCIS حساب پرانیزئ او غوښتنلیک مو په آنلاین بڼه ورواستوئ.

- څنګه کولای شي چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ دخدماتو اداري(USCIS) سره انلاین حساب پرانیزې، ویډیوېي لارښود په (پښتو) او (دری)
- څنګه کولای شي چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري سره انلاین حساب پرانیزې د لیکلي لارښود په (دری)او( پښتو) (PDF)

**څنګه کولای شئ چې ملاتړ ترلاسه کړئ:** مونږ ته په دې پته ILSAAinfo@icf.com بریښنالیک واستوئ ترڅو وکتل شي چې ایا تاسې په شرایطو برابر یاست، او دیو وکیل سره وصل شئ چې تاسو سره د بیا پرول د غوښتنلیک اوا د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتواداري(USCIS) د معلوماتو تفسیرولو په برخه کې درسره مرسته وکړي.

- د امریکا د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ دخدماتو اداري (USCIS) د بیا پرول غوښتنلیک پروسه په (انګلیسي) ژبه بعضې افغانانو لپاره

**ستاسو د قضیې د ثبتولو وروسته:**
پداسې حال کې چې تاسو د بیا پرول غوښتنلیک په اړه پریکړې ته انتظار کاږئ، تاسو کولای شئ هغه حقوقي خدماتو ترلاسه کولو ته دوام ورکړئ چې تاسو ورته نوم لیکنه کړی ده.

**نوري سرچینې:**

- یو اس ای هیلو | (USAHello) د بیا پرول پروسه
- افغان امریکایي بنسټ | په متحده ایالاتو کې میشت شوي افغانانو لپاره بیا پرول
- د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره(USCIS) I-131 | فورمه: د افغانانو بیا پرول- په آنلاین ډول د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادرې(USCIS) حساب یا (اکونټ) په اړه لارښوني
- USCIS | بیا پرول بروسه بعضې افغانانو لپاره
- د بنه راغلاست حقوقي اتحاد | د غوښتنلیک د ملاتړ کڅوره (انګلیسي) (دری) (پښتو)

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره جموتو شوي او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادې سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره د حقوقي خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه( ۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.

USCRI